د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير HIZB UT TAHRIR

دوشنبه ۱۱ رجب ۱۴۴۰هـ | ۱۸-۰۳-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۷

**مطبوعاتي اعلاميه**

## یوازې خلافت په افغانستان کې د غرب جنګي جنایتونه بربنډ او غاښ ماتوونکی ځواب ورکولی شي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې هېواد یې د نړیوالې جزایي محکمې څارونوالانو ته، چې غواړي په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جنګي جنایتونو د تورونو د څېړنې لپاره امریکا ته سفر وکړي، ویزه نه ورکوي. ده زیاته کړې، که دغه محکمه خپل چلند بدل نه کړي، اقتصادي بندیزونه هم وربانديې لګوو.

امریکا په داسې حال کې د نړیوالې جزایي محکمې له څېړنو وېره لري چې دغه هېواد په افغانستان کې "د تروریزم پر وړاندې مبارزې" په نامه  وحشیانه جنایتونه تر سره کړي دي. امریکا د تېرو ۱۸ کلونو په بهیر کې نیم میلیون افغانان وژلي او ټپیان کړي، مخفي زندانونه یې جوړ کړي، چې له زندانیانو سره یې خورا بد چلند پکې کړی او د افغانستان د مسلمانانو پر شخصي حریم او دیني مقدساتو یې تېری کړی دی. په افغانستان کې د امریکا جنګي جنایتونه دومره وحشتناک دي، چې حتی د شوروي اتحاد هغه یې شرموولي دي. دلته څرګندېږي چې امریکا نه غواړي په افغانستان کې د دغه هېواد د جګړې، ظلم، جنایتونو او جرمونو حقیقت ډاګیز شي.

له بلې خوا امریکا د ډیموکراسۍ او بشري حقونو شعار ورکوي، خو کله یې چې ګټې په خطر کې وي، حتی د څېړنې اجازه هم نه ورکوي. دا حالت ښیي چې دغه شعارونه هغه وسایل دي چې یوازې د غرب ولکه او ګټې تضمینوي.

پاتې دې نه وي چې نړیواله جزایي محکمه هم کمزورې ده او نه شي کولی چې د امریکا د جنګي جرایمو په اړه څېړنه وکړي او د جنایتونو اصلي عامل محکوم کړي؛ ځکه دغه سازمان خپله د نورو نړیوالو سازمانونو غوندې د مجرمو غربي قدرتونو د سیاسي اجنډا په خدمت کې دی او ځینې وخت یو پر بل د فشار د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي، چې اوسمهال پر امریکایانو د اروپایانو د فشار وسیله ګرځېدلې ده.

په واقعیت کې یوازې خلافت دولت په اسلامي خاورو کې د غرب جنګي جنایتونه ډاګیزولی او غاښ ماتوونکی ځواب ورکولی شي او د مسلمانانو د خاورې، وینې، عزت او مقدساتو ساتنه کولی شي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**